# غني خان

## یو مصور او مجسمه ساز

حاجي محمد عدیل

د برصغیر د پخوانو تهذیبونو اثار مونږ ته څۀ نه څۀ په زړو کنډراتو کښې په نظر راځي او بیا په زړو کنډراتو کښې د موهنجوداړو نوم د ټولو نه اول راځي. د هلته نه چې کومې مجسمې راویستې شوې دي، په هغې کښې دوه ډېرې اهمې دي. یوه "ګډېدونکې فنکاره" او دوېمه "ږیرې والا یو پروهت" مونږ دې ته د هغه زمانې مسئله هم وئیلے شو یعنې فن او مذهب زمونږ د تهذیبي ژوند داسې اړخونه دي چې مونږ ئې د یو بله جدا کولے نۀ شو او ثقافتي امن او شانتي په برصغیر کښې هله قائمه پاتې شوې ده چې دا دواړه اړخونه د یو بل سره سم او متوازي تللو ته پرېښودے شوي دي، کله چې هم دا کوشش شوے دے چې یو دې په بل مسلط کړے شي یا یو په بل حاوي کړے شي نو د برصغیر په ثقافتي او سماجي قدرونو کښې بې اعتدالي پېدا شوې ده او د تهذیبي زلزلو دیکې لګېدل شروع شوي دي، کۀ هغه دور د اورنګزېب باچا وي یا د پروني ضیاءالحق یا پروېز مشرف.

په **1914** کښې د ستر پښتون مشر باچا خان په کور کښې مشرے زوئے پېدا شو چې وړاندې د فن او ادب په هره یوه څانګه کښې بې مثاله ثابت شو. باچا خان په خپل ژوند لیک "زما ژوند او جدوجهد" کښې لیکي چې غني مونږ دواړو یعنې ما او د هغۀ مور ته ډېر ګران ؤ. د وړومبي نړیوال جنګ په دوران کښې او د هغې نه پس یوه وبا خوره شوه او غني د پنځو کالو په عمر کښې ډېر ناجوړه شو، د مور مینه په غورځنګ شوه او د خپل خوږ زوي د کټه چاپېره ئې اووۀ چکرې ووهلې او دا دعا ئې کوله چې خدایه غني جوړ کړې او د دۀ مرض په ما کړې. د غني د مور دا دعا قبوله شوه، غني جک جوړ شو او مور ئې په مرض پرېوته او وفات شوه.

دا خوږ زوئے چې پلار ئې ترې مذهبي عالم او دانشور جوړول غوښتل او چې په خپله آزاده مدرسه کښې ئې داخل کړو، د عربي ژبې سره سره ئې ورته د ترجمې سره قرآن پاک هم ختم کړو. د حدیثو تعلیم ئې ورکړو، د لسم نه پس دے د نور مذهبي تعلیم دپاره ډیلي جامعه ملیه مدرسې ته ولېږلے شو چې پوره مذهبي دانشور جوړ شي خو قدرت د غني خان په قسمت کښې څۀ نور لیکلي وو. کال **1929** کښې د جولائۍ دریشتمه نېټه د دې ښائسته ځوان د ژوند اهمه ورځ ثابته شوه او هغۀ د بمبۍ په لاره د اعلٰي تعلیم دپاره انګلستان ته روان شو. د سفر په دوران کښې هغه خپل وړومبے نظم ولیکلو.

د لندن خوشګوارې او آزادې فضا د دۀ دننه رومانې شاعر او فنکار ته لاره ورکړه او دے ورو ورو هلته په خلقو کښې ښکاره شو، د دۀ د جادوئې شخصيت نه هلته يوه زنانه فنکاره دومره متاثره شوه چې دغه ګنګوسې باچا خان ته هم راورسېدې. باچا خان ورته دستي جواب ولېږو چې زر تر زره د لندن نه امريکې ته لاړ شه. هلته دۀ د ساؤتهـ لوزيانه Loisiona يونيورسټۍ کښې د انجئينرنګ تعليم شروع کړو خو خدائے ته څۀ نوره منظوره وه نۀ غني ملا جوړ شو نۀ ئې تعليم پوره کړو او کېميکل انجنئيرنګ دۀ ته د چينو جوړولو چل خو زده کړو خو د دۀ دننه چې کوم خوارۀ وو، د هغې لاره ئې ونه نېوې شوه. غني واپس هندوستان ته راغے او د هغۀ پرېشانه پلار دا محسوسه کړه چې د غني رجحانات د مغربي فلسفې او تعليم نه دومره متاثره شوي دي چې هغه د يو هندوستاني په حېث د Complex ښکار کېږي. دغه ورځو کښې باچا خان د بهار په حاضر باغ جېل کښې ؤ. د دې مسئلې د هوارولو دپاره دۀ ته د جېل ملګري پنډت جواهر لال نهرو مشوره ورکړه چې غني اله آباد ته ولېږه، هلته پنډت موتي لال نهرو او د هغه ښځې کملاجي دے په ډېره مينه په خپل کور کښې وساتلو او بيا ئې اندرا ګاندي او دے شانتي نکتېن کښې داخل کړل چې بنياد ئې په **1901** کښې ستر فلسفي او شاعر رابندرناتهـ ټېګور اېښودے ؤ او هغۀ ئې چلوونکے ؤ. دلته د غني ملاقات د نندلال بوس، کرشنا کريلانی، او رام کنکار په شان لويو هستيو سره وشو او دۀ د دوي نه مصوري او مجسمه سازي زده کړه. شانتي نکتېن د دۀ ذهن بدل کړو. د يو هندوستاني په حېث د دۀ د کمترۍ احساس په برترۍ کښې بدلېدل شروع شو. غني خان په خپله وائي "د هشنغر نه يورپ ته راغلم خو په شانتي نکتېن کښې ماته په اول ځل دا موقعه په لاس راغله چې ايشيائي فلسفه او ادب وپېژنم. دلته ما خپل ځان بيا موندو، د خپل عظيم ماضي، شاندار ثقافت او اعلي او ارفع تهذيبي اقدارو سره شانتي نکتېن په جامعه مليه ډېلي حاوي شو. دغلته د غني هر اړخيز شخصيت جوړېدو ته پوره پوره موقعه په لاس ورغله.



هغه غني چې په مغربي جديدو علومو ښائسته ؤ او اوس ورته د مقامي فلسفې او کلچر بنيادونه هم ترلاسه شو. د غني په الفاظو کښې چې زۀ په خپلو خلقو فخر کوم او دا هر څۀ ما په شانتي نکتېن کښې زده کړي دي، غني د شانتي نکتېن نه په ټول ژوند کښې متاثره ؤ، هم دغه اثر ؤ چې هغۀ د خپل کور نوم دارالامان يعنې شانتي نکتېن کېښودے ؤ. خو کله چې باچا خان د جېل نه آزاد شو او شانتي نکتېن ته لاړو نو هغۀ ته په دې خبره ډېر افسوس وشو چې د هغۀ

قابل او هوښيار زوئے په رنګونو کښې خپل وخت ضائع کوي. هغۀ فېصله وکړه چې غني به نور هلته نۀ پاتې کېږي. نندلال بوس جي او تر دې چې تېګور باچا خان ته ووئيل چې غني دلته پرېږده خو د باچا خان ځواب دا ؤ چې کۀ غني شين يا سُور رنګ په کينوس واچوي نو د برصغير په نقشه کښې به څۀ بدلون رانۀ شي. غني د باچا خان خبره ومنله او د برصغير د نقشې بدلولو دپاره ئې د څۀ وخت دپاره کېنوس قربان کړو.

په **1945** کښې ئې د سنټرل اسمبلۍ په اليکشن کښې برخه واخسته، مسلم ليګ، خاکسار او هندو مهاسبا ټولو ته ئې ماتې ورکړه او د سنټرل اسمبلۍ د ټولو نه کم عمره ممبر او کامياب تقرير کوونکے جوړ شو. بيا ئې "زلمے پښتون" جوړ کړو او د خپلو سرو رنګونو دپاره ئې ډېر پراخه کېنوس پېدا کړو.

د غني خان د فنپارو وړومبے نمائش پېښور کښې د شپېتۀ په لسيزه کښې شوے ؤ چې اهتمام ئې اباسين آرټ سوسائټۍ کړے ؤ او ما په وړومبي ځل د غني خان تخليق کړي پورټرېټ، د مصورۍ څۀ نمونې او ځنې مجسمې وليدې. اوربدلي مې دي چې د هغۀ د فنپارو اخري نمائش **1993** کښې په لاهور کښې شوے ؤ. غني خان کله هم په ګروپ ايګزيبشن Group Exibitions کښې برخه نۀ ده اخستې، شايد چې دا هم د هغۀ ځان له خپل سټائل ؤ. غني خان په فرانسيسي مصورانو خصوصاً په تاثريت پسند Impressionist مصورانو ډېر مئين ؤ. هغه به د قدرتي منظرونو او ښائسته ځيزونو نه فنکارانه تحريک حاصلولو. د اصل څهرو سره سره به هغۀ اکثر خيالي او تصوراتي څهرې هم پېنټ کولې او کۀ د هغۀ پېنټ کړي مخونه به تصوراتي هم وو خو د هغۀ د نزدې رشته دارانو سره به ئې مشابهت لرلو. غني خان Self Portraits هم جوړ کړي وو. باچا خان، د هغۀ خوېندو ورونو او د هغوي د بچو تصويرونه جوړول د هغۀ ډېر خوښ وو. د غني خان جوړې کړې شوې څهرې او پورټرېټ او د دې سټائل او اسلوب ته چې مونږ ګورو نو د مشهور يورپين مصورانو ځنې پېنټنګز ته مو قدرتي طور خيال ځي. د هغۀ په خپله اسپانوي مصور ګويا ډېر خوښ ؤ. د غني خان د فنپارو په ليدو چې د کومو تصويرونو طرف ته د انسان خيال ځي په هغې کښې د ګويا La maja او د Leonurdo divinci مشهور عالم موناليزا، د بوټي شيلي Botliceltis، Birth of Venus د وينس زيږون، د Rembrandt Self Porteriat د Reynolds "Lady Curdine" شامل دي. زما په خيال به هغه ضرور د Liani moding موډيک لياني عقيدت مند وي او د هغۀ پورټرېټ Yang Gray Nude نه هم ضرور متاثره ؤ. د غني خان د يوې نايابه مجسمې Lamp Past په ليدو د Rodin Morning مجسمې ته د سړي خيال ځي. حالانکې



Morning د يوې ښځې مجسمه ده او په Lamp post کښې د يو مشر پښتون څېره په نظر راځي.

غني خان په يوه مخه انساني څېرې جوړې کړې دي. داسې ښکاري چې د هغۀ د پاره انساني مخونه يو چېلنج ؤ. د هغه تر ټولو خوښ مېډيم رنګين Pastels او چارکول ؤ. هغه په خپله وائي چې زما Pastels خوښ دي ځکه چې دا زما د طبيعت مطابق دي. زۀ سيماب فطرت يم، زر زر کار کول غواړم. زۀ په ځينې څيزونو او قاعدو باقاعده عمل نۀ کوم، بس چې پېنټنګ کووم نو هغسې ئې کووم ځنګه چې ماته يقين وي چې داسې پکار دے.

د دغې سيماب فطرت وجه وه چې هغۀ به د مېټريل ډېر خيال نۀ ساتلو، کۀ د براؤن رنګ د پېنټنګ کاغذ به ؤ يا کارډ بورډ، هغۀ به دومره هم انتظار نۀ کوو چې فرېم جوړ کړي. يا کېنوس برابر کړي، د هغۀ تصويرونه په بيلابېلو قسمه مېټريل شوي دي. د هغۀ خپله طريقه وه خپل ټيکنيک ؤ، هغۀ به وئيل چې زۀ تصوير هغسې نۀ جوړوم ځنګه چې زما ماډل وي بلکې زۀ تصوير هغسې جوړوم ځنګه چې زما ماډل ماته ښکاري".

**1947** کښې جوړ کړے شوے د هغۀ Self Portrait د هغۀ د دننه انسان پوره پوره نمائندګي کوي. د هغۀ مشهور پورټرېټ، فريدون **1956**، نګينه او توره ليلي متاثره کوونکي د ي. غني خان چې کومې مجسمې جوړې کړې دي، هغه د خټې نه علاوه د لرګي استعمال هم کوو. په اکثرو مجسمو کښې تفصيلات نه دي ظاهر کړے شوي خو يو فکر يو سوچ هغۀ په هره مجسمه کښې پرېښے دے، هغۀ به وئيل کۀ زما پېنټنګز او مجسمې کۀ زما نه پس هم چرته پاتې شوې نو زۀ به وګڼم چې ما آب حيات نوش کړو.




د غني خان ډېر کار په شانتي نکتېن کښې پاتې شوے دے. د پاکستان جوړېدو نه پس د هغۀ فنپارې ځائے په ځائے د خلقو سره پرتې دي. په خپله د هغۀ په کور کښې ډېر پورټرېټس پراتۀ دي. د خان عبدالولي خان په کور کښې او د نورو رشته دارانو کره د هغۀ نادر او ناياب پېنټنګز پراتۀ دي. چارسده کښې د غني خان اډېټوريم "غني ډېرې" کښې د هغۀ څۀ فنپارې راجمع کړې شوي دي خو څۀ به ښۀ وي چې د هغۀ ټولې فنپارې راجمع کړې شي او په ښه طريقه سمبال کړے شي. غني خان د شاعر په توګه د پښتونخوا د هر پښتون په کور کښې په کتابونو او کېسټونو کښې موجود او محفوظ دے خو اوس دا بې حده ضروري ده چې د مصور غني خان فنپارې راټولې کړې شي ځکه چې غني خان په خپله وئيلي وو چې کۀ دا باقي پاتې شوې نو زۀ به داسې وګڼم چې ما آب حيات نوش کړو.

(د امجد شهزاد ترجمه)